دافغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۴

نېټه: ۱۴۴۴/۱/۱۱ هق

عاجل ☐ عادي ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير ☐

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د ستري محکمې عالي شورا مجلس مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هق ته، د دارالانشاء عمومي رياست پيشنهاد وړاندې کړی وو چې متن د پيشنهاد داسي دی:

((د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو عالي اداري لخوا مکتوب نمبر (۱۹۹ج٤) مورخ ۱۴۴۱/۱۱/۲۹هق په لاندې توګه ټولو محکمو ته استول شوی وو:

(هرې محکمې ته چې کله رسمي مکتوب د واتساپ له لارې ورسيږي نو هغه محکمه به ياد مکتوب له واتساپ څخه راباسي فوتوکاپي به يې اخلي تر څو يې له ځان سره ثبت وارده او محفوظ کړي.

نو که مبايل يا واتساپ خراب، يا ورک سي د محکمې سره به خپل مربوط اسناد محفوظ پاته وي)

دا چې پورته تحرير شوی متن د افغانستان اسلامي امارت ټولو محاکمو ته خبر ورکول شوی وو، بناءً د دوهم ځل استولو په موخه ستاسو درانه مقام ته پيشنهاد شو هغه څه چې ستاسو هدايت وي واجب التعميل دي.))

چې په اړه يې عالي شورا د تصويب نمبر (٤٠) مورخ ۱۴۴۱/۸/۵هق په اساس داسي هدايت وکړ:

((دارالانشاء رياست دي مذکور مکتوب په متحدالمآل ډول ټولو محکمو ته واستوي، البته د ټيليګرام او رسمي ايميل د لارې هم چې کوم مکتوب يا متحدالمآل کومې محکمې ته ورسيدی، هغه دي هم پرنټ او محفوظ کړي.))

بناءً د ستري محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصويب هدايت، د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تميزونو ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

۱۱ / ۱ / ۱۴۴۴ هق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء رئيس

ستره محکمه
رياست عمومي دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلورلارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
ټيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹

**دافغانستان اسلامي امارت**

**دمحاکمو عالي اداره**

مکتوب نمبر: ۱۹۹ج ۴ — تاریخ ۲۹ – ۱۱ – ۱۴۴۱ هق

---

د اسلامي امارت و ټولو محکمو ته السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

وبعد:

هري محکمې ته چي کله رسمي مکتوب د واټساپ له لاري ورسیږي نو هغه محکمه به یاد مکتوب له واټساپ څخه را باسي فوټو کاپي به یې اخلي تر څو یې له ځان سره ثبت وارده او محفوظ کړي.

نو که مبایل یا واټساپ خراب ،یا ورک سي د محکمې سره به خپل مربوط اسناد محفوظ پاته وي.

د محاکمو عالي اداره

Scanned with CamScanner